مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

کلیوال ۲۰۲۰/۰۸/۱۵

# په یارانه کې

مالیدلی ډیر تاوان په یارانه کی
دئ بایللي می خپل ځان په یارانه کی

له حدودو نه بیرون یاری و نه کړی
چی راځي ضرورخپګان په یارانه کی

لکه ګل چی مړاوي کیږی بی له بوټي
شي زړه بدئ به جانان په یارانه کی

ده توفان سره یاري، یاري د ښکلو
سرهم تلای شي د توفان په یارانه کی

له آسمان سره یاري ښکلو نه ښه ده
انصاف ښکاری د آسمان په یارانه کی

**که اصول د یاری نه شي پښو لاندې**
**تاوان نشته د افغان په یارانه کی**

له بل هرڅه کلیوال ته دا ښه ښکاری
چی ژوند جوړشي دانسان په یارانه کی.

جولای/۲۶/۲۰۲۰
تورنتو - کانادا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ